سميع الدين افغاني

۲۰۱۳/۰۹/۱۱

# د افغان ملي تيم لوبغاړو ته



بری دې لمانځوسرلوړوي دې لمانځو
ای ورزش کـاره کامیابي دې  لمانځو

ستا لــوړ  هـمـت ستا متانت تــه سلام
ته شوې اتــل قهرمـــاني دې لمانځـو

چې افـتـخار پـرې تأريخـونه وكـړي
داسـي تکـل اتـــلـــولـــي دې لمانځـو

لوبــه همت لـوبــه قـــوت درکـــوي
وحدت یووالی ورورولـــي دې لمانځو

وي سلـيم عقـل پـــه سالــم بـدن کې
په هـرمیدان کې سرلوړي دې لمانځو

ستا پـه بـری کـــې د وطن بــری دی
په اتــلانــو کـــې سيالي دې لـمـانځـو

زه درواری شـــم تا هـمـت تـه سـلام
"افغاني" عـــزم فـولادي دې لمانځـو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ